د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهار شنبه ٠٦ رجب ١۴۴٠هـ    ١٣-٠٣-٢٠١٩م    گڼه: ح.ت.افغ ١۴٣٩/٠٦

**مطبوعاتي اعلاميه**

## لویه جرگه د خلکو واقعي نظر نه، بلکې د امریکا او د هغې د لاسپوڅو سیاسي اجنډا څرګندوي

د افغانستان جمهوري ریاست د یوه فرمان له مخې د ۱۳۹۸ لمریز کال د ثور نهمه د سولې لپاره د مشورتي جرګې د جوړېدو نېټه ټاکلې ده. د دغې جرګې څرګنده موخه د خلکو د استازو د مشورو او نظرونو اورېدل، حللاره لټول او د سولې د مذاکراتو د پروسې ګړندي کول بلل شوي دي، ترڅو د جرګې په پای کې دولت ته د سولې تګلاره وټاکي.

د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دې لویې جرګې جوړېدل د هغو لاسپوڅو چارواکو ناکامه هڅه بولي، چې بادار یې له طالبانو سره د امریکایي سولې له پروسې څخه څنګ ته کړي او غواړي له دې لارې په ښکېلو اړخونو فشار راوړي ترڅو دوی هم د سولې په پروسه کې ورګډ کړي. له بله اړخه هڅه کوي چې د دې خاورې د خلکو پر وړاندې د هغوی څه د پاسه یوې نیمې لسیزې پر خیانتونو پرده وغوړوي او په پای کې ځان دروغجن اتل وښیي.

موږ د لویې جرګې ډېر اوږده تاریخ ته اشاره نه کوو، بلکې د تېرو ۱۸ کلونو په اوږدو کې مو ولیدل چې لویې جرګې څنګه د ښکېلاکګرو په ګټه پای ته رسېدلې دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون د لویې جرګې له لارې اوسنی اساسي قانون د یوه غیر اسلامي او فرمایشي قانون په توګه د امریکا له خوا د افغانستان پر خلکو و تپل شو. په ۲۰۱۳م کال کې له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک کولو لویه جرګه چې د خلکو د استازو په نامه د امریکا د سفارت رشوت خوړونکي پکې راټول شوي وو او د رایو په اکثریت یې له یرغلګرې امریکا سره د دغه شرمووونکي امنیتي تړون غوښتنه وکړه، چې اوسني دولت د خپل کار په لومړۍ ورځ ورسره لاسلیک کړ او اوس یې یو ځل بیا د سولې لپاره د مشورتي لویې جرګې غږ پورته کړی، ترڅو پر خلکو یوه بله استعماري اجنډا وتپي.

په داسې حال کې چې د اسلام مبین دین د خلکو په چارو کې مشوره پر چارواکو باندې د رعیت حق ګڼي، دغه ډول مشورتي لویې جرګې تل د ناروا کارونو د رواوالي، د استعمار د سیاسي اجنډاګانو د تطبیق او د خلکو د واقعي نظر د چوپتیا په موخه د لاسپوڅو چارواکو او د هغوی د بادارانو په فرمایش جوړې شوې دي. له همدې امله حزب التحریر-ولایه افغانستان یو ځل بیا د افغانستان مجاهد ولس مخاطب کوي؛ چې د لویې جرګې له سوړې څخه بیا و نه چیچل شي او د امریکا او د هغې د مزدورانو د سولې د اجنډا لپاره ناوړه وسیله ونه ګرځي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**